مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada ۲۰۲۰/۱۰/۰۴
مترجم: عبدالباري جهاني

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ایالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

لسمه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډیپلومات لیون پولادا او د هغه مېرمني لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځیني فصلونه یې د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما یې هغه د ترجمې لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

## اتم فصل

### پوځي مرستي ـ دوهمه برخه

### متحد د دوست په مقابل کي:

له افغانستان سره د امریکا د پوځي مرستي په ارتباط د دي عجیبو او غریبو حالاتو او کیسو د منځته راتللو سابقه او علت څه وو؟ ولي د دغه راز مرستي په مقابل کي د بیروکراتیکو او قانوني خنډونو ځای، د پالیسیو داسي تغییر ونیوی چي متحده ایالات یې دي ته مجبور کړل چي د خپل یوه دوست هیواد افغانستان سره د خپل یوه متحد هیواد پاکستان اړیکي په نظر کي ونیسي؟ د ۱۹۵۱ او ۱۹۵۴ کلونو ترمنځ، د واشنګټن د فضا په برخه کي سړی یو څه مفکوره د جورج مګي د شخصي یاداشتونو څخه هم په لاس راوړلای سي. مګي، لیون پولادا ته په یوه مکتوب کي ولیکل:

« په دي کي هیڅ شک نه وو چي د خارجه وزیر د مرستیال په حیث، زما د کار په دوره کي، زموږ پالیسي دا وه چي افغانستان ته به پوځي مرستي نه ورکوو. موږ د شمالي قوس هیوادونو ته د دغه راز مرستو د ورکولو په برخه کي عمومي پالیسي نه درلوده. لکه ما چي په خپل کتاب کي لیکلي دي موږ، د ډیرو علتونو له مخي، د افغانستان له پاچا سره هغه مرسته چي ده غوښته ونه کړه. موږ په دي خبري ډېر خوشاله وو چي هند د دغه راز مرستو غوښتنه نه وه کړي. موږ له پاکستان سره، چي غوښتل یې زموږ متحد و اوسي، ډیري محدودي مرستي کړي وي. موږ چي د افغانستان تاریخ، د هغه ګوښه او تجرید حالت او له شوروي اتحاد سره د هغه اوږده سرحد ته کتل نو فکر مو وکړ چي که افغانستان ته وسلي ورکړو نو شوروي اتحاد به ولمسوو او هغوی به دا یو انتقامي عمل وبولي. په هغه وخت کي افغانستان ته ، نه د شوروي له خوا او نه په افغانستان کي د ننه ، د کمونیستانو له خوا څرګند تهدید متوجه وو. د افغانستان رژیم ته که کوم خطر او تهدید متوجه وو نو هغه به د هغه هیواد د مطلق العنانی او استبداد له کبله وو. موږ فکر کاوه چي دا خطر هغه وخت لیري کېدلای سي چي خلکو ته ډېره آزادي ورکړه سي، د ښوونې او روزني زمینه ورته برابره سي او د خلکو اقتصادي وضع بهتره سي. موږ په دغو برخو کي له دوی سره، تر خپله وسه پوري، د مرستو کولو کوښښ وکړ.»

د افغانستان د مسلي د سابقي په باره کي نور معلومات هم د سفیر مګي له خاطراتو څخه را اخلو. د ده له یاداشتونو څخه ښکاري چي په واشنګټن کي د افغانستان په باب سمه پالیسي موجوده نه ده. ده ولیکل:

« د متحده ایالاتو د لویو درستیزانو کمېټي په ۱۹۴۷ کال کي رسماً دا منله چي د منځني ختیځ امنیت زموږ د امنیت لپاره حیاتي اهمیت لري. مګر بیا یې هم د ۱۹۴۹ کال د اکتوبر پر شپږمه د متقابل امنیت په قانون کي د منځني ختیځ او جنوبي اسیا هیوادونو ته، حتی د پیسو په مقابل کي هم، پوځي مرستي منظوري نه کړې. کله چي زه د خارجه وزیر مرستیال سوم نو ډېر ژر مي د پوځي مرستو د پروګرامونو منتظم ته یاداشت واستاوه او هغه ته مي ولیکل چي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځيني مشخص هيوادونه، په تېره بيا هند، پاکستان، افغانستان او سعودي عربستان بايد د دغه قانون په عملي کېدلو کې په نظر کې ونيول سي. »
په دغه وخت کې مګي ظاهراً له افغانستان سره د پوځي مرستو طرفدار وو که څه هم چې پولادا ته يې په خپل مکتوب کې وليکل چې کله زه د خارجه وزير مرستيال وم زه افغانستان ته د پوځي مرستو له ورکولو سره مخالف وم.
د ۱۹۵۱ کال د فبروري په مياشت کې مګي د ترکيې د استانبول په ښار کې، په منځني ختيځ کې د امريکا د نمايندګيو د رئيسانو په ګډون، په يوه کنفرانس کې برخه واخيستله. د متحده ايالاتو استازو په خپله اعلاميه کې هغه اهداف بيان کړل چې دوی موافقه ورباندي کړې وه:
« موږ بايد هغو هيوادونو ته چې له شوروي اتحاد سره سرحد لري ډيري زياتي پوځي مرستي ورکړو او په هغو هيوادونو کي اقتصادي مرستي زياتي کړو او خلک د کمونيستانو له اهدافو سره مقاومت کولو ته تشويق کړو. د هغو هيوادونو په برخه کي چې د شوروي اتحاد سره سرحد نه لري او تر پوځي تهديد لاندي نه دي بايد يوازي د داخلي امنيت په برخه کي مرستي وسي او هغوی د ساړه جنګ په موضوع کي لا ډېر مهم نه ګڼل کيږي. »
ايا دا ممکنه ده چې د خارجه وزير مرستيال مګي او ټول هغه مسلکي ډيپلوماتان، چې د منځني ختيځ په چارو او جغرافيه کي يې تجربه درلوده، په دې نه وه خبر چې افغانستان له شوروي اتحاد سره سرحد لري؟ که دوی په دې حقيقت پوهېدل، چې حتماً به پوهېدل، نو د دې معنی دا ده چې دوی افغانستان په هغو هيوادونو کي شامل کړی وو چې بايد ډيري زياتي پوځي مرستي ترلاسه کړي.
کله چې سړی له امريکا څخه د وسلو د ترلاسه کولو په برخه کي د افغانستان د کوښښونو تاريخ ته ګوري نو د مګي په خاطراتو کي به دا وينا ځرنګه توضيح کړي چې وايي افغانستان تر ۱۹۵۱ کال پوري د متحده ايالاتو له پوځي وسايلو سره علاقه نه وه ښودلې؟ دا سابقه ګډه وډه ده. د دې سوال احتمالي جواب دا دی چې امريکا، لکه مخکي چې مو وويل، افغانستان اصلا په سترګو نه ليدی. داسي ښکاري چې هغو عالي رتبه امريکايي مقاماتو، چې د خارجي چارو اداره ورسپارله سوې وه، افغانستان ته هيڅ وخت جدي او ژوره کتنه کړې نه وه او د پوځي مرستو لپاره يې د افغانستان غوښتني قصداً داسي تعبيرولې چې له سړي څخه به يې لاره ورکه کړه. دغه نظر د افغانستان د ستراتيژيک اهميت په باره کي له ابتدايي او غلطو اطلاعاتو څخه سرچينه اخيستې وه.
که څه هم چې مګي په خپلو خاطراتو کي ښيي چې د متحده ايالاتو د لويو درستيزانو کمېټې په ۱۹۴۷ کال کي ويلي وه چې د منځني ختيځ امنيت د متحده ايالاتو د امنيت لپاره حياتي اهميت لري؛ دی دا هم ليکي چې د ده هغه کوښښونه بريالي نه سوه چې غوښتل يې افغانستان هم په دغه امنيتي حوزه کي شامل کړي. د ده د ناکامی د علت پيدا کول ډېر ګران کار نه دی. په ۱۹۵۳ کال کي د لويو درستيزانو کمېټه د خپلو مخفي مطالعاتو په نتيجه کي وايي:
« افغانستان متحده ايالاتو ته چنداني او يا هيڅ ستراتيژيک اهميت نه لري. دا هيواد د شوروي اتحاد په محيط کي پروت دی. دا هيواد، تش په نامه، د شوروي له سلطي څخه مستقل دی. مګر که د هغه جغرافيايي موقعيت ته وګورو او د هغه هيواد د مشرانو نظر واخلو نو هغوی هم د شورويانو توان او طاقت ته قايل دي او وايي چې هر کله شورويان وغواړي دا هيواد به د هغوی وي. تر دې چې را تېرسو؛ افغانستان د هند په لاره کي پروت دی او که د لوېديځ او ختيځ تر منځ جګړه کيږي نو د شوروي اتحاد د فتوحاتو په لاره کي لومړنی ګام دی. دغه علتونه دا حکم کوي چې افغانستان هر وخت د لوېديځ او ختيځ تر منځ په جنګ کي بې طرف پاته سوی دی. که غرب په ځرګنده توګه په هغه هيواد کي له کمونيزم سره مخالفت ونه کړي نو دغه بېطرفي به همداسي پاته وي. او که چيري له کمونيزم سره مخالفت وسي نو شورويان به د افغانستان نيولو ته وهڅوي. »
د ملي امنيت شورا، په هغه کال، دغه ته ورته دريځ ونيوی:
«دا ځرګنده ده چې روسيه افغانستان ته د اشغالولو ارزښت نه ورکوي ځکه چې په افغانستان کي داسي منابع نسته چې په جدي توجه دي و ارزي او دوی ښايي په دې عقيده وي چې هر وخت يې د سرحدونو وضع لازم وبولي هغه هيواد اشغالولای سي. په دې کي هيڅ شک نسته چې افغانستان د مقاومت کولو سره سره نيول کېدلای سي. که چيري پر افغانستان باندي يرغل وسي نو دا ممکنه ده چې ځيني عناصر، په تېره بيا قبايلي خلک، به مقاومت ته دوام ورکړي.»
په بل عبارت، د امريکا د حکومت سترو مقاماتو ته مشوره ورکړه سوې وه چې افغانستان بايد له مقاومته پرته د لاسه وتلی وشمېري ځکه چې هغه د امريکا امنيتي ګټو ته هيڅ اهميت نه لري. د دغو اټکلونو له مخې، پر افغانستان باندي د شوروي له يرغل څخه د امريکا امنيت ته کوم خطر متوجه نه وو او دغه راز متحده ايالات له هغه هيواد څخه د دفاع لپاره چنداني څه کولای هم نه سوای. پر دې برسېره داسي استدلال هم کېدی چې امريکا بايد نه شوروي دونه په غوسه او نه ولمسوي چې هغوی حملي ته تحريک کړي. »
د شوروي د آرام ساتلو له دې مشورې څخه معلوميږي چې مقامات نه يوازي د افغانستان په برخه کي سخت ناپوه وه بلکه د روسيې په برخه کي يې هم اطلاعات نه درلوده. لکه هينري کيسينجر چې يو وخت ويلي وه « روسانو په خپل تاريخ کي په هره هغه خلا کي نفوذ کړی دی چې يا يې د کمزوري او يا بې تصميمی له امله مقاومت نه دی ورسره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

کړی. ځکه چي که کمونیستي ایډیالوژي هر وخت د قواوو له انډول څخه استفاده ونه کړي بیا خو هیڅ اساس نه لري.» پر ناپوهي او بې تفاوتي پر سېره، د روسیې د آرام ساتلو پالیسي په افغانستان کي د ډیپلوماسۍ غالب اړخ سو. په دغو لومړنیو اسنادو کي، چي د امریکا د ملي امنیت تر ټولو لوړو ادارو ترتیب کړي دي، په افغانستان کي د غیرموثري ډیپلوماسي زیني ایښودل سوي دي. دغو اسنادو په واشنګټن کي د منفي سلوک روحیه منځته راوړې او دوی ته یې ویلي دي چي افغانستان ته پوځي مرستي ور نه کړی. حتی پر افغانستان باندي د روسیې د مخامخ او وحشیانه یرغل څخه وروسته، چي په ۱۹۷۹ کال کي پیل سو، متحده ایالاتو ډېر کلونه دا وېره درلوده چي که افغانانو ته، چي په خپلو وینو یې له خپلي خاوري څخه دفاع کوله، کافي او مناسبي وسلې ورکړي نو روسان به د جنګ پر اخولو ته تحریک سي.

د لویو درستیزانو د کمېټې د رئیس او د ملي امنیت د شورا دا نظر چي روسان باید راضي او کرار وساتل سي، د ۱۹۵۰ په لسیزه کي، په واشنګټن کي د سیمي ماهرینو ته د غور کولو لپاره ونه سپارل سو؛ او هغوی هم، تر ډېره ځایه پوري، له افغانستان سره چنداني علاقه هم نه درلوده. شوروي متخصصینو افغانستان ته، د شوروي امپراطوری په سرحد کي د یوې لیري پرتې خاوري په سترګه کتل. ډېرو لږو امریکایي ماهرانو د شوروي مرکزي اسیا په برخه کي معلومات درلودل. د مسلمانانو سیمو ته یې د وروسته پاته او بې اهمیته ځایونو په سترګه کتل. د جنوبي اسیا د سیمي متخصصینو خو زیاتره له هند سره علاقه درلوده او د امریکا او پاکستان د اتحاد د اړیکو زیاتېدلو ته یې توجه کړې وه. د دوی لپاره افغانستان او د پښتونستان موضوع هسي یوه رېړوونکې مسله وه. د منځني ختیځ د چارو متخصصین د عربو او اسرائیلو له ستونزو سره اخته وه. دا احتمال چي یو وخت به د افغانستان پېښي شورویان د هورموز آبنا ته نیژدې کړي او لوېدیځ ته به د تیلو صادرات تهدید کړي د چا په زړه کي لا نه تېرېدی.

## نوربیا

د جورج مګي په خاطراتو کي...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ